**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمالونو څانګه**

د متحدالمال ګڼه: ۳۹

نېټه: ۱۴۴۴/٦/۱۲ هـ ق

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو محترمو ریاستونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محاکمو منسوبینوته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د محترم عالي مقام له هدایت سره سم، د تېرې ادارې د نا پلي شویو قطعي او روستیو فیصلو د بیا ځلي څېړلو په موخه طرزالعمل ترتیب شوی وؤ چې د اسلامي امارت د محترم عالي مقام له تائید وروسته، د سترې محکمې د محترم مقام له هدایت سره سم د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۳/۱۰/۲۲ هـ ق نېټې (۱۵) ګڼه متحدالمال له لارې ټولو محکمو ته ولېږل شو او په هغه کې یادونه وشوه چې: (د مخکینۍ ادارې ناپلي شوې فیصلې چې ابتدائیه مرحله یې تېره کړې وي، د اسلامي امارت مرافعه محکمو ته دې وړاندې کړل شي او که مرافعه مرحله یې تېره کړې وي، د اسلامي امارت اړونده تمیز ته دې واستول شي...) په همدې بنسټ، د تېرې ادارې دوسیې د اسلامي امارت محکمو ته لېږل شوې وې چې وروسته د اسلامي امارت محترم عالي مقام سترې محکمې ته په شفاهي توګه هدایت وکړ چې له هغې سره سم او د سترې محکمې د محترم مقام له هدایت سره سم د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۴/۴/۱۸ هـ ق نېټې (۳۱) ګڼه متحدالمال له لارې ټولو محکمو ته لارښوونه شوې وه ترڅو: (د مخکینۍ ادارې دوسیې چې یوازې ابتدائیه مرحله یې تېره شوې ده، یا یې هم ابتدایي او استینافي مراحل تېر کړي وي، یا یې هم ابتدائیه، استیناف او تمیز مراحل تېر کړي وي، خو پلي شوې نه وي او محکوم علیه د بیاکتنې غوښتنه وکړي، یا محکوم له د پلي کولو غوښتنه وکړي، په ټولو حالتونو کې دوسیه د دعوی د یوې خوا له مراجعې وروسته په هر ولایت کې د استیناف محکمو له لارې دې د «قضایي هئیت» ځانګړې محکمې ته واستول شي.

اوسمهال ځینې محکمې پوښتنې کوي چې د مخکینۍ اداري هغه شمېر ناپلي شوې قطعي او روستۍ فیصلې چې د اسلامي امارت په محکمو کې یې اصولاً جریان پیدا کړی دی، هغه هم ځانګړو محکمو ته ولېږو یا که څنګه؟ په دې برخه کې، د سترې محکمې د محترم مقام لخوا د لارښوونې د ترلاسه کولو لپاره نوموړې موضوع د اسلامي امارت محترم عالي مقام ته وړاندې شوه چې د اسلامي امارت محترم عالي مقام په دې برخه کې لارښوونه کړې ده او د محترم عالي مقام دلارښوونه نو ژباړه په دا ډول ده:

**((ملاحظه شوه!**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLOپه اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.onlineته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**وعلیکم السلام ورحمت الله وبرکاته**

**وروسته: د مخکینۍ اداري ټولې دوسیې که هغوی د اسلامي امارت په محکمو کې جریان موندلی وي یا یې جریان نه وي موندلی، ځانګړې محکمې ته دې واستول شي.))**

له همدې کبله، د افغانستان اسلامي امارت د محترم عالي مقام له تحریري لارښوونې سره سم او د سترې محکمې د محترم مقام له هدایت سره سم د نوموړي متحدالمال له لارې د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اړوند د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو ته خبر ورکړل شو ترڅو له هغې سره سم (د مخکینۍ اداري دوسیې چې یوازې ابتدائیه مرحله یې تېره کړې وي، یا هم ابتدائیه او استیناف مرحلې یې تېرې کړې وي، یا یې هم ابتدائیه، استیناف او تمیز مراحل تېر کړي وي، خو پلي شوې نه وي....) که ممکن د اسلامي امارت په محکمو کې ورته جریان ورکول شوي وي پ یا هم جریان نه وي ورکول و شوې، نوموړې ټولې دوسیې دې د شرعي حل او فصل لپاره پ هر ولایت کې د هماغه ولایت د مخکینۍ اداري د دوسیو د څېړلو ځانګړې محکمې ته ولېږل شي.

**په درنښت**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د سترې محکمې**

**د دارالانشاء عمومي رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLOپه اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.onlineته لاړ شئ.